# Language and comprehension

# (ژبه یا پوهونه او راپوهونه )

**Ehsanullah Pamir**
**Assistant Professor, Paktia University,**
**Gardiz, Paktia, Afghanistan**
ehsanpamir@gmail.com

## Abstract:

د ژبې د پېژندنې او تعریف په اړه داسې ویل شوي دي، ژبه د غږېزو سېمبولونو سیستم دی، چې دهغه په واسطه انسانان د یوې ډلې او دیوه کلتور د برخه والو په توګه متقابله پوهونه او راپوهونه سرته رسوي. د ژبې په اړه داسې هم ویل شوي دی: ژبه په واقعیت کې یوه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافي پدیده ده، نه عضوي، فطري او طبعي. دلته ټولنیز په دې مانا چې ژبه په ټولنه کې زده کیږي. هر څوک چې په هره ټولنه کې اوسیږي، دهمغه ټولنې ژبه زده کوي او د همغه ټولنې د وګړو په ژبه خبرې کوي. اکتسابي په دې مانا ده چې په ټولنه کې کسب کیږي. داسې هم ویلای شو کله چې موږ په ټولنه کې کوم کسب او کار زده کوو همداسې ژبه هم زده کولای شو، په طبعي توګه موږ ته ژبه نه ده رازده شوې، دلته باید یوې باریکۍ ته پاملرنه وکړو، خدای (ج) انسانانو ته د نطق یا خبرو کولو توان او قوت په فطري توګه ورکړی دی، یعني هر انسان چې هغه ګونګ نه وي، معیوب نه وي، ضرور به خبرې کوي، دا خبرې کول فطري دي الله تعالی انسان ته دا توانایي ورکړې، چې وغږیږي او نورو مخلوقاتو ته یې دا توانایي نه ده ورکړې چې خبرې وکړي، د یوې ژبې زده کړه بله موضوع ده. د ټولنې څخه زده کړه ده، دلته دوې خبرې ضرور دي یو دا چې ژبه کسبي ده او په ټولنه کې زده کیږي او بل دا چې خبرې کول او د خبرو کولو توان فطري دی، الله تعالی دا قوت یوازې انسان ته ورکړی دی، پوهونه راپوهونه یا ژبه بیا په درېو لارو تر سره کیږي، چې یو ډول یې په غږېزه توګه ده، چې خلک یو له بله سره خبرې کوي او پوهونه راپوهونه کوي، دویم ډول یې په لیکنې ډول ده، چې یو چاته لیکنه کیږي او په دې ډول پوهونه راپوهونه تر سره کیږي، دریم ډول یې اشاروي ده، چې د اشارو او حرکتونو په واسطه انسانان یو له بله سره پوهوي.

### سریزه

ژبه په ټولیز ډول موږ د پوهولو راپوهولو وسیله بولو، خو دا چې د پوهولو راپوهولو له پاره موږ له کومو لارو استفاده کوو، په دې اړه بېلابېل نظریات موجود دي، زموږ ډیری پوهان او همداسې نور ټول وګړي یوازې خبرې یا ګفتاري او لیکنۍ ژبه پېژني خو ددې تر څنګ موږ د پوهولو راپوهولو له پاره اشاروي او یا غیر کلامي ژبه هم لرو، ما داسې هم اوریدلي دي، چې اشاروي ژبه، ژبه نه ده او هیڅ د ژبپوهنې بحث نه وربانديې کیږي، پوهان داسې هم وايي، چې اشارو او حرکتونو ته ژبه نه ویل کیږي، حال دا چې موږ ډیره پوهونه راپوهونه د اشارو او حرکتونو له لارې سرته رسوو، په اشارو کې دا ښه والی هم شته، چې دهرې ژبې ویونکي کېدای شي وربانديې پوه شي، په دې مانا که موږ په پښتو ژبه خبرې کوو کیدای شي پښتانه او یا هغه کسان چې پښتو یې زده وي پوه شي، همداسې په لیکنۍ ژبه هم، که موږ په یوه ژبه لیکنه وکړو یوازې هغه کسان چې هغه ژبه یې زده وي، پرې پوهیږي او له لیکنې څخه مطلب او مفهوم اخیستلای شي، خو هغه کسان چې اړونده ژبه یې نه وي زده، هغه نه له غږیزې ژبې او نه له لیکنۍ ژبې څخه مفهوم اخیستلای شي، خو اشاروي ژبه بیا دا ښیګنې لري، که یو څوک د بلې ژبې ویونکی هم وي، له اشارې او حرکتونو څخه مفهوم او مطلب اخیستلای شي، نو که کله له ژبې څخه بحث کوو یا له پوهونې راپوهونې څخه بحث کوو باید د پوهولو دا درې واړه ډولونه په نظر کې ونیول شي، ما په دې مقاله کې دا او دې ته ورته ستونزو د حل په موخه، ددې له پاره چې اشاروي ژبه هم ژبه ده، او هم دپوهولو راپوهولو له پاره کارول کیدای شي، بحث کړی دی، په دې مقاله کې تر ډیره دا هڅه کړې ده چې اشاروي او غیر کلامي پوهونه راپوهونه هم د ژبپوهنې تر اصولو لاندې مطالعه شي.

په (انسایکلو پېډیا برتانیکا) کې یې د ژبې د پېژندنې او تعریف په اړه داسې راوړې دي، ژبه د غږېزو سېمبولونو د خپلې خوښې سیستم دی، چې د هغه په واسطه انسانان، د یوې ټولنیزې ډلې او دیوه کلتور د برخه والو په توګه متقابله پوهونه او راپوهونه سرته رسوي، ددې تعریف مفاهیم که بېل بېل وشنل شي، نو غږیز سیستم یا vocal معنا دا چې د ژبې په تعریف کې موږ د مفاهمې په برخه کې یوازې د وینا پر اړخ ډېر تمرکز او زور اچوو، د مفاهېمې نور سیستمونه هم شته لکه د یوه ټاکلي مفهوم د افادې له پاره د سر او لاس ښورول، د اوږو پورته غورزول، د سترګو کش کول، سترګک وهل، پوزه بوچه نیول او داسې نور چې دا هر یو د یو مشخص او ځانګړي مفهوم له پاره په ښوونه کې مرسته کوي. (۳۰۳۲:۸ )

موږ په ژبه کې یوازې غږیز سیستم په نظر کې نیولی دی. له ژبې څخه زموږ مطلب یوازې خبرې کول دي، خو د ژبې هغه لویه برخه چې لږ تر لږه کېدای شي، زموږ د ژوندانه ۶۰ سلنه افهام او تفهیم د هغې له لارې سرته و رسیږي، له ذهن څخه مو غورځولې ده او



IJMRC

د ژبې څخه مو مطلب باید یوازې خبرې کول نه وي، ژبه یو له بله د پوهولو او راپوهولو وسیله ده او پوهول د اشارو او حرکاتو له لارې تر خبرو کولو کېدای شي ښه تر سره شي، نو بیا دا پوهول راپوهول په څه نامه یادوو، که د ژبې نوم ورکړو نو ژبه خو مو په قصدي توګه یوازې غږیز سیستم بللی، دا بې غږه سیستم چې مفاهېمه یې تر غږیزسیستم کېدای شي ښه او غوره وي آیا ژبه نه شو بللی؟ نه داسې نه ده، هم ژبه ده هم مفاهېمه ده او د ژبپوهنې یوه برخه تشکیلوي همدا رنګه د خپلې خوښې سیستم څخه مو مراد دادی چې د ژبني سېمبول او دهغه د اصلي مادې تر منځ هېڅ راز لازمې اړیکي نه وي، د بېلګې په توګه په پښتو کې موږ یو حیوان ته اس وایو، د دغه حیوان د نامه له پاره په پاړسي کې اسپ، په عربي کې فرس، په هندي کې ګهوړا، په انګرېزي کې هاړس، په فرانسوي کې شاوال او په روسي کې لوښاد نومونه ټاکل شوي دي. له دغو لغتونو څخه هېڅ یو یې د نوموړي حیوان له واقعي حالت سره مناسبت نه لري، بلکه صرف یوه نومونه ده چې د ولې له پاره یې نه ځواب نه شته او نه ژبپوهان له دې اړخه په ځان کوم تکلیف تېروي، دا خبره په تقلیدي لغتونو کې چې د یوه غږ د تمثیل له پاره وضع شوي وي، لاهم تر یوې اندازې صدق کوي. په انګریزي کې د پیشو خرهاري ته purr وایي او په فرانسوي کې ورته ronronner وایي دا دواړه لغتونه د پیشو د خرهارې له پاره استعمالیږي او د پیشو خرهارې تمثیلوي خو تاسي وینئ چې دهغوی په شکل او جوړښت کې څومره توپیر دی. سېمبولونه د شیانو تمثیلوونکي دي، خو خپله شیان نه دي د بېلګې په توګه د کتاب لغت په خپله کتاب نه دی، خو د کتاب څرګندوی دی، کله چې موږ د ژبې لغت په خوله راوړو تر زیاتې اندازې پورې مو مراد د ویلو ژبه ( spoken language ) وي او لیکلې ژبه بیا یو بل سیستم دی، چې له وینا سره سیده اړیکه لري، خو حرکي ژبه او بې غږه مفاهېمه او یا ( body language) بېل یو بل د پوهونې او راپوهونې سیستم دی.

اروابناد پوهاند محمد رحیم الهام لیکي: ژبه د انساني غږونو یو رمزي سیستم دی، چې د یوې ژبنۍ ټولنې غړي یې د مفاهېمې له پاره کاروي، موږ د ژبې دغه غږیز سیستم ته وینا وایو او انسانانانو بیا د خپلو وینایي ژبو د ثبتولو او ساتلو له پاره ګرافیک سیستمونه اختراع کړي دي چې موږ یې لیک بولو. وینا او لیک په ماهیت کې دوه بېل سیستمونه دي، د وینا اساسي جوړونکي عناصر غږونه دي او د لیک اساسي جوړونکي عناصر توري دي، غږونه داسې فزیکي پدیدې دي، چې احساس یې د غوږونو په واسطه کیږي او توري بیا داسې بل ډول فزیکي عناصر دي چې احساس یې د سترګو په واسطه کیږي. (۳:۷۳)

کله چې وینا بېل سیستم شي او غږونه بېل سیستم، د وینا او غږونو د سیستم په نامه ونومول شي، نو حرکات او اشاري هم یو بل بېل فزیکې سیستم دی، چې دا هم دسترګو په وسیله احساس کیږي او اساسي جوړوونکي عناصر یې د انسان د بدن او غړو حرکتونه دي د بېلګې په ډول کله چې موږ د بلې یا هوکې په وخت کې بلې وایو یا د یو څه په اړه خپل موافقت ښیو نو په خوله وایو بلې یا هوکې، دا یو غږیز سیستم شو د (به، لې ) او یا ( هو، کې ) غږونو په واسطه مو وړاندې کړ او مقابل لوري د خپلو غوږونو په واسطه حس کړ او زموږ په موافقت پوه شو یا همدا غږیز سیستم که ولیکو په لیکلې بڼه یې وړاندې کړو د (ب، ل، ې ) او یا د( هـ، و، ک،ې ) د تورو یا ګرافیمونو په بڼه یې ولیکو مقابل لوری یې د سترګو په واسطه حس کوي او زموږ د موافقت څخه پوهیږي یعني په دواړو سیستمونوکې موږ یو شان مفهوم لیږدولای شو او په دواړو ډولونو کې بشپړه مفاهېمه رامنځ ته کیږي.که په لیکلې بڼه وي او که په غږیزه بڼه وي هدف او مقصد یو دی، یوازې دومره توپیر دی چې یو سیستم د غږ په واسطه وړاندې کیږي او د غوږونو په واسطه حس کیږی او بل سیستم د ګرافیمونو په واسطه وړاندې کیږي او د سترګو په واسطه حس کیږي او بس، خو موږ کولای شو همدا مفهوم په یوه بله طریقه هم وړاندې کړو موږ کولای شو په اسانه توګه د سر په ښورولو سره خپل موافقت وښیو چې دې ته د یو بل سیستم نوم ورکوو، دا سیستم هم د انسان د غړو دحرکاتو په واسطه وړاندې کیږي او د مقابل لوري د سترګو په واسطه حس کیږي او مفاهېمه رامنځ ته کیږي، همداسې ډېرې نور مثالونه هم لرو چې زموږ ژبپوهانو یوازې د دوه سیستمونو له لارې ښوودلي دي خو درېیم سیستم یې له یاده ایستلی دی حال دا چې دا درېیم سیستم هم مفهوم لیږدوي او مقابل لوری ترې په ښه توګه خپل مقصد او هدف اخیستلی شي. داکتر رازق پالوال د ژبې یو ډېر خوندور تعریف کړی دی، هغه داسې چې ژبه د پوهېدنې او راپوهونې هغه صوتي سېمبولیکه وسیله ده، چې ودې او تکامل یې بشر د انسانیت تکاملي پړاو ته او دلیک ایجاد یې انسان د مدنیت تکاملي پړاو ته رسولی دی.(۱: ۱)

داسې هم ویل شوی دي چې ژبه په انساني ژوند کې تر ټولو مهمه ده، ځکه د انسان او نورو حیوانانو توپیر یوازې په ژبه شوی دی، همدا ژبه ده چې انسان له حیواناتو څخه بېلوي او ورته ناطق یا خبري کوونکی حیوان ویل کیږي. (۱۱:۷)

په دې تعریف کې کله چې د سېمبول کلیمه کارول کیږي، زموږ ذهن ته توري او ګرافیمونه او نورې نښې راځي، همدا نښې د بې غږې مفاهمې له پاره استعمالیږي په حرکاتو او نښو موږ بې غږه مفاهمه کوو چې ( body language) هم ورته ویلای شو د بېلګې په توګه، که چېرې موږ د لاسونو دګوتو په واسطه د V اشاره کوو، په اصل کې په بې غږه توګه د یوې نښې په واسطه یو مفهوم لیږدوو.



پوهاند محمد صابر خوښکی د ژبې په اړه وايي: ژبه په واقعيت کې یوه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافي پدیده ده، نه عضوي، فطري او طبعي. ددغې موضوع د ښه روښانتیا له پاره چې ژبه یوه طبعي او فطري پدیده نه ده بلکه یوه ټولنیزه پدیده ده یو مثال راوړو: دماشوم په لاره تګ یو طبعي واقعیت دی هرومرو ماشوم په لاره تګ زده کوي بې له دې چې ماشوم ته څوک تګ ور زده کړي ماشوم تګ کوي، یوازې هغه څوک چې شل وي هغه به خدای شل او معیوب پیدا کړی وي نور ټول په طبعي توګه تګ کوي، د لارې تګ په عملیه کې انساني ټولنیز عادتونه او دودونه ، ثقافت کوم نقش نه لري ځکه د ماشوم په وجود کې ځینې ځانګړي عناصر او عوامل په انفرادي توګه وجود لري چې د بیولوژۍ د علم له نظره د حیاتي توارث په نامه یادیږي د همدغه عواملو له امله د ماشوم په بدن کې یوه سلسله عصبي او عضلي فعالیتونه صورت نیسي او ددې سبب ګرځي چې ماشوم د ګرځېدو استعداد پیدا کړي، که څه هم دوینا اوخبرو کولو استعداد په انساني وګړو کې جبلي دی ولې دغه استعداد په فطري اوطبیعي توګه وده نه کوي.

البته دخبرو کولو استعداد په شرایطو پورې اړه لري چې یوازې اویوازې دانساني ټولنې په واسطه رامنځته کېدای شي که چېرې یو انسان دټولنې څخه لرې کړو په لاره تګ زده کوي خو د خبرو کولو زده کړه د ټولنې څخه بهر امکان نه لري. همدارنګه که چېرې یو نوی زیږیدلی ماشوم د خپل زیږنځای څخه یو پردي زیږنځای ته یوسو د خپل زیږنځای د خلکو په شان تګ کوي خو خبرې کول یې توپیرلري. یعني دهماغه خلکو ژبه زده کوي چې دی ورسره ژوند کوي نو په پای کې ویلای شو چې ژبه د نښو د مجموعې په توګه یوازې انسان په خپله ټولنه کې زده کوي چې د هغوی په مرسته خپل فکرونه، احساسات او خیالونه خپل همځېلو ته ځرګندوي او په دې توګه د پوهولو او راپوهولو وسیله ګرځي ښاغلی خوښکی زیاتوي د مفاهیمو هر ډول وسیله او اړیکي ژبه ګڼل کیږي که دغه اړیکي په اشاروي توګه وي او که د نښو په توګه وي او که په هره بله لاره وي یوازې مفاهیمه که په هره لاره وي ژبه بلل کیږي. (۲:۲)

دلته په ډاګه ویلای شوو په هر هغه لاره چې افهام او تفهیم وشي ژبه بلل کیږي، د اشارو او نښو یادونه په واضح ډول شوې ده نو بې غږه مفاهیمه یا د بدن دغږو ژبه (Body language ) هم ژبه ده او باید د ژبپوهنې تر عنوان لاندې بحث پرې وشي دلته دا خبره چې ژبپوهنه یوازې او یوازې له غږونو سره سر او کار لري په کلکه غندل شوې ژبپوهنه نه یوازې غږونه بلکه نښې، اشارې، حرکتونه او نور تر څېړنې لاندې نیسي.

پوهاند مجاور احمد زیار وايي ژبه په خاص مفهوم سره د یو لړ اختیاري ویېزو او اوریزو سېمبولونو یا علامو یوه مجموعه ده چې هر یو سېمبول یې زموږ د یو ذهني انځور نماینده ګي کوي، دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال څیزونه او د پوهولو یوه اله او وسیله ګرځي. (۴:۲۶)

په بله وینا ژبه د غږیزو او اوریزو سېمبولونو او نښو یو داسې کسبي او اتفاقي سیستم دی چې د یوې ژبې وګړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهلو له پاره په ژبه راوړي او یو بل ته یې اوروي. دلته له سیستم څخه مطلب دادی چې هره ژبه ځان ته نظام او مشخص قواعد لري چې له نورو ژبو سره توپیر کوي همدارنګه په پښتو پښتو سیند کې د ژبې په اړه داسې راغلي دي ژبه یعني قول، عهد، لوز، کلام، وینا، تکلم او نطق. (۶:۵۴۷)

د امریکې وتلی ژبپوه م چامسکي ویلي دي ژبه یو ځانګړی بشري استعداد دی، ژبې د انسانانو په پیدایښت کې کلک سیمونه غځولي دي او ژبې د خپلو اجرآتو له پاره مخکې له مخکې ټاکل شوي ګرامري قواعد لري. (۹:۵)

د ژبې په اړه په یوه نظریه کې راغلي چې وايي ژبه د لومړي ځل له پاره د طبعیت د غږونو څخه تقلید دی، الماني مشهور فیلسوف (هردر) ویلي دي چې د ژبې غږونه د طبعیت دغږونو څخه زږېدلي دي د بېلګې په توګه د پشې میو میو، د سپي غپ غپ، د ساعت ټک ټک او د اوبو شرشر یادولای شو یو بل عالم د (بو آس آدر) په نامه ویلي دي په ډیرو چینایي، سور پوستانو، او جنوبي افریقا د خلکو په ژبو کې چې کوم نوي لغتونه جوړ شوي او منځته راغلي دي ډیری یې د طبعیت له غږونو څخه په تقلیدي توګه تر اوسه پورې رواج لري، دا نظریه کله کله منل شوې ده او ډیرو ورته د انتقاد په سترګه کتلي دي د ژبې په اړه بله نظریه د ژبو ندایي نظریه ده. د بېلګې په توګه کله چې وایو: اخ اخ، اوه، آو، اخ او نور دا نظریه هم د تقلیدي غږونو د نظریې په توګه غندل شوې ده، موږ هم باور وربانديې نه شو کولای چې ووایو د ژبې منشأ او اصل دا غږونه دي. جان دیوي په دې عقیده لرله چې دا نظریه، د ژبې په اړه په ټولیزه توګه صدق نه کوي، خو د غږونو د پیدایښت او رامنځته کېدو په اړه کیدای شي ورڅخه ګټه واخیستل شي، جان دیوي دا نه دي ویلي چې له دې غږونو څخه ژبه څنګه منځته راغلي ده او څنګه یې مفهوم او مانا پیدا کړی ده.

د ژبې په اړه دریمه نظریه داسې ده چې وايي ژبه د حرکاتو او سکناتو څخه منځ ته راغلي او ورو ورو حرکتونو خپل ځای غږونو ته پرې ایښی دی د( پیاژه) په نوم یو عالم داسې عقیده لرله چې د پوهولو او راپوهلو لومړنی طریقه حرکات وو چې وروسته یې ځای الفاظو نیولی دی. ده ویلي دي د حرکاتو په واسطه کولای شو تر ټولو غوره او ښه پوهونه او راپوهونه وکړو (پیاژه) یوه بله مهمه خبره هم کړې ده، ده ویلي د حرکاتو ژبه تر ټولو ژبو پخوا موجوده وه او د پوهولو راپوهولو وسیله وه خو ددې په خاطر اوس ترې لږه استفاده کیږي چې کله به څوک بوخت وو لاسونه به یې بند وو نو د لاس په حرکاتو یې څوک نه شوی پوهولای او یا به کله چې تیاره وه او یاه هم کله به چې

IJOMRC

د خلکو ترمنځ فاصله زياته وه نو پوهونه او راپوهونه ستونزمنه وه له همدې امله د حرکاتو ژبه کمرنګه شوه او ډېره ساحه يې الفاظو، تورو اوګرافيمونو ته پرېښوده ا و غرېزه ژبه منځ ته راغله تر څو خلک په هر وخت کې په رڼا کې او په تياره کې يو بل سره وپوهولی شي خو ددې ټولو سره سره بيا هم د حرکاتو او اشارو ژبه، ژبه ده او د پوهولو راپوهولو له پاره ترې ګټه اخيستل کيږي.

## پايله

د پورته څېړنو څخه دا نتيجه اخلو چې هر هغه څه چې د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو له پاره کارول کيږي ژبه بلل کيږي که په ليکني ډول وي که په ګفتاري ډول وي او که په اشاروي توګه وي، په ټوليزه توګه داسې هم ويلا ی شو چې ژبه يعني پوهول راپوهول او د وګړو تر منځ مفاهېمه. خو دا مفاهېمه که په هر ه لاره وشوه ژبه بلل کيږي د پايلي په توګه داسې هم ويلا شو چې مفاهېمه په درې ډوله ترسره کيږي په غرېزه توګه چې وګړي يوله بله سره ګړيږي او په غرېزو غړو غړونه توليدوي او د غوږنو په واسطه حس کيږي دويم ډول د مفاهمې ليکني مفاهېمه ده چې د غږونو د سمبولونو يا د تورو په واسطه تر سره کيږي او د باسواده وګړو له لارې د سترګو په واسطه حس کيږي او پوهونه راپوهونه کوي دريم ډول د مفاهمې اشاروي مفاهېمه يا پوهونه راپوهونه ده چې د بدن د غړو په واسطه د اشارو او حرکتونو له لارې تر سره کيږي او د مخاطب له لوري د سترګو په واسطه حس کيږي او همدا ژبه يا پوهونه او راپوهونه ده.

## اخذليکونه


1. پالوال،عبد الرازق.(۱۳۸۴) کال. معياري پښتو.شال خپرندويه ټولنه، پاکستان
2. خوښکی، محمد صابر.(۱۳۹۳) کال. پښتو غږ پوهنه او وييپوهنه. مومند خپرندويه ټولنه
3. د خان شهېد ياد، .( ۱۳۷۰) کال دمقالوټولګه.بيلابېل ليکوالان. د سرحدونو چارو وزارت. کابل
4. زيار، مجاور احمد. ۱۳۶۲ کال. پښتو پښويه. دلوړو زده کړو وزارت چاپخونه. کابل
5. زيرکيار، رحمت ربي.(۱۳۸۹) کال. ژبه له بابا ادمه تر دې دمه. زرغېری. امريکا
6. زاهد،عبد القيوم.(۱۳۹۱) کال. پښتو پښتو سيند. علومو اکاډمي. کابل
7. ستوری، کبير. (۱۹۷۹) کال. ژبساپوهنه. دپښتونخوا د پوهنې ديره. پيښور
8. و. ګ. السټريټېډ، ورلډ انسايکلو پيډيا.(۲۰۰۸م) کال. نيويارک



## Summary:

It is said about language definition and introduction that language is the symbolic sounds system, via this humans carrying out mutual understanding as a group and culture participants.

It is also said about a language that it is in reality a social, acquired and cultural phenomenon nor organic and natural.

Here by societal means that language is learning from community. Everyone who lives in society learns that society language, and also talking on that community's people language.

Acquire means that it is obtaining in society, and also say like this, whenever we are acquiring work the same like this we can learn a language too. We did not naturally learn a language. Here we should be very careful to a significant point or thinness that almighty Allah has naturally given speaking power and ability only to a human being. Every human must have the ability to talk if he would not be a dumb or crippled.

The talking ability is naturally and all mighty Allah only given this ability to a human to talk and did not give the ability to other creatures. Learning a language is another issue, that it learns from society and here are two significant points.

First is, that language is acquiring it is learning from community. Another is talking ability, and all mighty Allah has given naturally this strength and ability only to human being.

Communication carrying out on three ways.

First is spoken: That people having conversation among each other. Second is written: That people write a text to someone. Third are gestures: People comprehending each other via gestures.